# أَلَا هَلْ عَسَى رَجُلٌ يَبْلُغُهُ الْحَدِيثُ عَنِّي وَهُوَ مُتَّكِئٌ عَلَى أَرِيكَتِهِ فَيَقُولُ: بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ كِتَابُ اللهِ

له مقدام بن معديكرب رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:
«أَلَا هَلْ عَسَى رَجُلٌ يَبْلُغُهُ الْحَدِيثُ عَنِّي وَهُوَ مُتَّكِئٌ عَلَى أَرِيكَتِهِ فَيَقُولُ: بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ كِتَابُ اللهِ، فَمَا وَجَدْنَا فِيهِ حَلَالًا اسْتَحْلَلْنَاهُ، وَمَا وَجَدْنَا فِيهِ حَرَامًا حَرَّمْنَاهُ، وَإِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا حَرَّمَ اللهُ».
«خبردار اوسئ! نږدې ده چې يو سړي ته به زما لخوا نه حديث ورسيږي او هغه به بالښت ته تکيه وهلي وي او وايي به : زمونږ او ستاسو تر منځه د الله کتاب دی ، نو څه مو چې پکې حلال وموندل حلال يې ګڼو، او څه مو چې پکې حرام وموندل حرام يې ګڼو، او حال دا چې هغه څه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم حرام کړي دي - حرمت يې داسې دی - لکه الله تعالی چې حرام کړي وي».

[صحيح]

رسول الله - صلى الله عليه وسلم - خبر ورکوي چې داسې زمانه را نږدې شوې ده چې د خلکو يوه ډله به ناسته وي او يو تن به يې پر خپل بستر تکيه وهلي وي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث به ورته ورسيږي، نو وايې به: هغه څه چې زمونږ او ستاسو ترمنځه په چارو کې پريکړه کوي هغه قرآن کريم دی او دا زمونږ لپاره کافي دی، نو څه مو چې پکې حلال وموندل عمل پرې کوو، او څه مو چې پکې له حرامو وموندل ځان ترې ژغورو. بيا رسول الله - صلى الله عليه وسلم - دا خبره جوته کړه چې هر هغه شی چې هغه حرام کړی وي او يا يې په خپلو سنتو کې له هغه څخه منعه فرمايلي وي نو هغه په حکم کې داسې دی لکه الله جل جلاله چې په خپل کتاب کې حرام کړی وي؛ ځکه چې هغه د خپل رب له طرفه - پيغام - رسوونکی دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65005